# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


۰۴ می ۲۰۱۲

# په ويلو او ليکلو کي همرنگي يا نيژدې والى

## اوله برخه

### په ويلو او ليکلو کي د همرنگی يا نيژدې والي اړتيا

د کليمو په وينګ (تلفظ) او کښنګ (ليکلو) کي همرنګي يا نيژدې والی د هري ژبي له خورا مهمو مسألو څخه شمېرل کيږي . پر ژبپوهنه او ړغپوهنه سربېره، د عقل او منطق غوښتنه هم دا ده، چي د ژبي و هر ړغ (phoneme) ته جلا توری (grapheme) يا نخښه (symbol) و ټاکل سي؛ ځکه هغه ليکدود (توري او نخښي) د يوې ژبي د ويونکو اصلي ړغونه په سمه او دقيقه توګه نسي ځرګندولای، چي د ړغپوهني (phonetics/phonology) د اصولو او قواعدو پر خلاف، يوازي د دود او دستور له مخي ټاکل سوئ يي (وي). له دي وجي نو يو راز ويل او بل راز کښنل، نه يوازي د ژبو وړغيز يا صوتي اصالت ته لوی زيان رسيي، بلکي ويونکي او لوستونکي هم په خبرو اترو کي له لويو پيچومو او کړاوو سره مخامخ کيي( کوي) . د نړی په خورا ډېرو ژبو کي د دغه راز نيمګړتياوو او کمزوريو روښانه نخښي ګورو.

د ژبو په شفاهي او تحريري بڼوکي د جلاوالي او توپير اساسي علت دا دئ، چي د دغو ژبو د املايي سيستم جوړونکو، پېړی پېړی مخکي و خپلو ژبو ته د ځانګړو تورو او نخښو په غوره کولو کي تر ډېره حده د تعامل او قرارداد لار اخيستي ده . په بله وينا، د الفبايي سيستم واضعينو د نورو ژبو په ميخانيکي پيروی سره د خپلو ژبو په ويلو او ليکلو کي هم جلاوالی راوستئ دئ . البته، د هغه مهال د شرايطو او حالاتو غوښتنه هم دا وه؛ ځکه نوی ژبپوهنه، په تېره بيا ړغپوهنه داسي پوهه ده، چي په پخوانو زمانوکي(کي يی) چندان ځرک نه ؤ . د دغه راز توپيرو د ښه پوهېدو دپاره، دلته د څو مثالو او بولګو وړاندي کول بې ګټي نه دي . زموږ انګرېزي پوه لوستونکي پوهيږي، چي په ننني عصر کي د نړی په تر ټولو آرته او متمدنه ژبه يانې انګرېزي کي، په زرو ټکي يو ډول وايي؛ خو بل ډول يی کاږي؛ مثـــــلاً«جج **judge**» ، «فارن **foreign**»، «اکنالیج **acknowledge**»، «کرنل **colonel** »، «نب **knob**»، «نايف **knife**»، «رايټ **write**»، «اينډايټ **indict**»، «أوتم **autumn**» او په زرو نور، ټول داسي ټکي دي، چي په ويلو او کښلو کي لوی توپيرونه ليدل کيږي . د همدې

نیمگړتیا او کمزوری له سَوَبه د دې ژبې ویونکي او لوستونکي مجبور دي، چې د زرو ټکو د معیاري املا د پوهېدو دپاره له بېلابېلو فرهنګو یا قاموسو څخه کار واخلي .

په پاړسي کي هم د عربي لیکدود په پیروی یو څه وایي او بل څه کاږي؛ د مثال په توګه په املا کي «رستم»، «سهراب»، «جدا»، «ګمان»، «ګناه»، «هنر»، «بلکه»، «چه» او داسي نور کاږي، خو په خوله یې د «روستم»، «سوهراب»، «جودا»، «ګومان»، «ګونا»، «هونر»، «بلکي»، «چي» او داسي نورو په بڼه وایي .

همدغه راز، د ځینو ږغو د ټرانسکریپشن(**transcription**) دپاره له داسي تورو او نخښو څخه کار اخلي، چي په حقیقت کي د دې ژبي له ږغیزو ځانګړتیاوو او اساساتو سره سمون نه لري؛ مثلاًپه «ایتلاف»، «رییس»، «عزراییل»، «اسراییل» او داسي نورو ټکو کي د لومړی «ی» پر ځای د عربي لیکدود په شان له همزې څخه کار اخلي لکه : «ائتلاف»، «رئیس»، «عزرائیل»، «اسرائیل» او داسي نور؛ په داسي حال کي، چي همزه (ء) په یوازیتوب سره، هیڅکله په پښتو او پاړسي کي د «ی» ږغ نسي افاده کولای . سربېره پر دې، په پاړسي کي د ځینو کلیمو اضافي، نسبتي یا نور مغیره حالتونه هم په همزه کاږي لکه : «از بدوء این منازعه»، «اندر رثاء شاعر»، «غشاء معده»، «امحاء بی سوادی»، «افشاء جنایات» او داسي نور . په دې ډول مثالو کي، بې ږغه همزه هیڅکله د «ی» استازیتوب نسي کولای . د عربي لیکدود له مخي، په داسي مواردو کي، تر همزه لاندي یو زېر هم راځي (ءِ)چي په واقعیت کي له همغه زېر څخه د «ی» کار اخیستل کیږي . البته، په عربي کي داسي کلیمي هم خورا ډېري دي، چي همزه یې زېر نه لري . له داسي همزې څخه په تلفظ کي هیڅ آواز نه پورته کیږي لکه : اولیاء، ابتلاء ، فناء ، بقاء او داسي نور . کله چي د زْوَر، زېر، پېښ او داسي نورو ږغونه ورسره ملګري سي، بیا نو همزه ظاهراً د ږغیز توري رنګ اخلي؛ حال دا چي ږغ په حقیقت کي په زْوَر، زېر او پېښ پوري اړه لري . خیر، دا د عربي ژبې پخوانی دود او دستور دئ، چي د قرآن مجید په استناد یې عمر تر څورلسو سوو کلو پوري رسیږي . په پاړسي یا پښتو کي دا دود پالل، بې ځایه تقلید دئ . سمه او معقوله لار خو دا ده، چي دغه راز کلیمي د همزې پر ځای په «ی» سره ولیکل سي لکه : « از بدوی این منازعه »، «اندر رثای شاعر»، «غشای معده »، «امحای بی سوادی»، «افشای جنایات»او داسي نور؛ ځکه په پاړسي، پښتو او داسي نورو ژبو کي د عربي ژبي د همزې او زېر (ءِ) ږغ د « ی » په مرسته ډېر اسانه او رسا بښول کېدای سي .

ګرانو لوستونکو ته مالومه ده، چي په پاړسي کي «پینټاګان» د «پنټاګون»، «کلینټن» د «کلینټون»، «جګسن» د «جګسون» . . . په بڼه لیکي . دا خبره سهي ده، چي په پاړسي کي د «ټ» ږغ نسته؛ ځکه یې نو د اواز د ټرانسکریپشن دپاره له نیژدې مخرج یاني «ت» څخه کار اخیستل کیږي . دا خود د دې ژبې په ږغیز سیسټم کي د ځینو ږغو او هجاوو د نسته والي مشکل دئ، چي ټول یې باید د سر پر سترګو و منو؛ مګر په « پنټاګون » باندي د « پینټاګان » د اړولو اړتیا په څه کي ده؟ ایا « ګون**gon** » او « ګان **gān** » د ږغیوهني له پلوه یو شان دي؟!

سربېره پر دې، په پاړسي کي خو د « ی » د نسته والي مشکل هم نلرو . ګران لوستونکي کولای سي د لاندي لینک[1] په کښېکښلو سره، په دري ژبه کي، د « ی » دري ډوله ږغونه له ژوندیو مثالو سره وګوري . که په پاړسي ژبه کي د « ی » ګانو کمی هم نه لرو، بیا نو ولي د خلګو د مروج تلفظ پر خلاف د « پینټاګون » یا کلینټون» غوندي کلیمو په لیکدود کي، په لوی لاس د « ی » له لیکلو څخه ډډه کوو؟ « پنټاګون » یا « کلنټون » خو د ږغیوهني له پلوه د « پینټاګان » او « کلینټن » څه چي د« پینټاګون » یا « کلینټون » استازیتوب هم نسي کولای؟ ژبپوهانو ته مالومه ده، چي په پاړسي کي د « ابتدا به ساکن » ستونزه عامه ده . له همدې اسیته «ستراتیژي»، «ستار»، «ستریټ»، «ستوری»، «سپورمی »، «خپل» او داسي نور ټکي د « ایستراتیژي »،

«ایسټار»، « ایسټریټ »، « ایسټوری »، « ایسپوړمی »، « ایخپل » او داسي نورو په بڼه وايي؛ مګر دا مو هیڅکله نه دي اروېدلي، چي په دې ژبه کي دي څوک د « ی » په ویلو کي هم ستونزه ولري . د یو بل مثال یادونه هم بې ځایه نه ده . موږ ټول اروو، چي انګرېزي ژبي خلګ په روښانه او واضح ډول « جګسن Jackson» وايي؛ خو په پارسي کي، بې ضرورته، د نورو ژبو په پیروی، په « جګسون » اړیي . که څوک پوښتنه وکي، چي کاکا د« جګسن » په نامه کي خو« و» ګرسره نسته، نو تاسي یې د کومي اړتیا او کوم دلیل له مخي، له ځانه په کښي باسئ؟ د « جګسن » او « جګسون » په اواز کي خو ډېر توپیر دئ .

موږ باید په دې روښانه واقعیت ښه سر خلاص کو، چي د بېلابېلو کلیموپه تلفظ کي له ځانه ږغونه زیاتول او کمول د ږغیوهني له اړخه ډېره لو( لویه) تېروتنه ده . له دې امله باید تر وسه وسه کوښښ وسي، چي د بېلابېلو کلیمو په تلفظ کي له ځانه کمی او زیاتی و نه کو، په تېره بیا هغه کمی او زیاتی، چي د مجبوری او اړتیا له مخي نه یي . په تلفظ او املا کي ددې ډول تحریفاتو او لاسوهنو شمېر تر انده پاس دئ . د ټولو را غونډول یې حتا په یوه مقاله کي هم نه ځاییږي . د دونیا خورا ډېري ژبي په دې ناروغی اخته دي . پښتو هم له دې ډلي څخه مستثنا نه ده . بېله شکه، د دې ستونزو او پېچومو د ختمولو تر ټولو ښه او معقوله لار دا ده، چي د ژبو املایي سیسټم (لیکدود) د خلګو د معیاري تلفظ له مخي جوړ سي . په نننی مقاله کي د پښتو ټکو د وینګ او کښنګ د همرنګی یا نیژدې والي پر ځینو ستونزو او حل لارو خبري کوو؛ خو تر هر څه مخکي بې ګټي نه ګڼو، چي د پښتو لیکدود و تکاملي بهیر، نیمګړتیاوو او کمزورییو ته هم یوه لنډه او چټکه کتنه وکو .

## د پښتو لیکدود د جوړېدو او پرمختګ وپړاوو ته لنډه کتنه

پښتو لیکدود هم د نورو متمدنو او پرمختللو ژبو په څېر په یوه پلا نه دئ جوړ سوئ، بلکي د پېړییو په اوږدو کي سَوکه سَوکه وده او پرمختګ کړئ دئ؛ او تل تر تله به جاري او ساري یي . د تاریخي شواهدو په اِستِناد، پخوا زموږ په تاریخي ټاټوبي کي له آرامي، براهمي، یوناني او خروشتي لیکدود څخه کار اخیستل کېدئ .[۲] و افغانستان ته د اسلام تر راتګ او نفوذ وروسته کرار کرار د عربي ژبي ولیکدود ته لار هواره سوه . عربي لیکدود هم په خپل وار سره ورو ورو و پښتو او پارسي لیکدود ته زمینه برابره کړه . د تر لاسه سوو مالوماتو له مخي، د پښتو اوسنی الفبې واردواره د سلطان محمود غزنوي ( ۳۸۹- ۴۲۱ هـ ق) د پښتون وزیر احمد بن حسن میمندي (میوندي) په امر ، د قاضي سیف الله له خوا جوړه سوه .[۳] د پښتو لیکدود په پرمختګ او بداینه کي بل لوی ګام، هغه مهال واخیستل سو، چي بایزید روښان اورمړ انصاري (۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) پر پخوانییو عربي تورو سربېره، دولس (د هغه د ځینو پیروانو د ادعا له مخي دیرلس) نور پښتو توري پر زیات کړل . وروسته خوشال خان خټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق)، د پښتو مرکي غږو، وزیر محمدګل خان مومند(۱۳۴۳-۱۲۶۳ش)، د پښتو ټولني مؤسسینو اواوسنییو ژبپوهانو د وخت او زمان له ایجاباتو سره سم د پښتو لیکدود په پراخېدو، علمي کېدو او پرمختګ کي ارزښتناکه برخه واخیستله . متأسفانه سره له دې اوږدو پراختیایي او پرمختیایي پړاوو، پښتو لیکدود بیا هم له هره پلوه بشپړ نه دئ؛ ځکه تر اوسه پوري زموږ د ژبي وځینو ږغو او هجاوو ته خپل ځانګړي توري او نخښي نه دي ټاکل سوي . د ځینو نورو ږغو او هجاوو دپاره که څه هم توري او نخښي لرو؛ خو د دودپالني او پېښنه ګری په وجه یي پر خپلو اصلي ځایو نه کاروو. د دغو نیمګړتیاوو او کمزورییو د ایسته کولو په هیله د پښتو ژبپوهانو، څېړونکو او لیکوالو پام و دغو ټکو ته را ګرځوم :

- زمونږ ځيني اوسني ژبپوهان، اديبان او ليکوال تر اوسه پوري عربي، پاړسي يا عربي- پاړسي مرکب ټکي؛ لکه مالوم، مانا/ معنا، تسپې/ تسبې ، سوله، پوځ، ګونا، هونر او داسي نور د عربانو او پاړسي ژبو په څېر په خپله اصلي بڼه ( معلوم، معنی، تسبيح، خوشحال، صلح، فوج، ګناه، هنر) کاري . ښايي دليل يې دايي، چي دا راز کليمي په نورو ژبو لکه عربي، پاړسي، اوردو او داسي نورو کي هم په دې بڼه کښل کيږي . له دې کبله يې دوی هم بايد اصلي او عمومي بڼه خوندي کي . ښايي ځيني ځيني دا انديښنه هم ولري، چي که دا ډول کليمي په مفغنه بڼه وليکي، نو عربان، پاړسي وانان او نور به د ناپوهی او بې سوادی ټاپه پر و وهي . حال دا چي واقعيت داسي نه دئ . زمونږ سترګه ورو ژبپوهانو او څېړونکو ته دا خبره روښانه ده، چي د پښتو ادب مخکښانو په سيمه او هيواد کي د عربي ژبي د پراخ او ژور نفوذ له وجي، نه يوازي د عربي، پاړسي، تورکي ( ترکي)، هندي، سنسکريت او نورو ټکو په ليکلو کي د عربي ټرانسکريپشن له اصولو څخه استفاده کوله، بلکي د خپلو سپېڅلو پښتو ټکو په کښنګ کي هم له دې لاري کار اخيستئ؛ مثلاً « ښه »، « ونه »، « اوبه »، « ګوندي »، « غوندي » او داسي نوري کليمي يې د « ښَ »، « ونَ »،« اوبَ »، « ګُندِ »، « غُندِ» په بڼه ليکلي . هغوی په دې کار کي د خپلي ژبي د ږغيزو ځانګړتياوو پر خلاف، په پټو سترګو د عربي ژبي دود او دستور پاله . لکه څنګه چي د پرمختللو او مهذبو اروپايي ژبو وتلو ژبپوهانود نورو ژبو د دود او دستور و پاللو ته اړتيا لرله، زمونږ ادبي او علمي مخکښانو هم دا حق لاره، چي د خپل وخت د مهذبي اوغني ژبي (عربي) د دود او بايدې پيروي وکي؛ خو کله چي په خپله ژبه کي د مختلفو اصواتو د ټرانسکريپشن دپاره مختلف توري او نخښي لرو، د عربي اِعرابو کارول، تل تر تله هيڅ منطق، تعقل او علمي اساس نه لري؛ ځکه عربي اِعراب په ځينو حالاتو کي دپښتو ژبي د ځانګړو ږغود ټرانسکريپشن وړتيا نه لري؛ د مثال په توګه عربي زېر( ـِ) نسي کولای په ټولو حالاتو کي د پښتو ژبي د پينځو ډولو « ی » ګانو سم او دقيق استازيتوب وکي؛ ځکه ټول پوهېږو، چي په عربي کي خو له لويه سره د پښتو په شان د« ی » پينځه ډوله ږغونه نسته .

له هغو ښاغلو ژبپوهانو او ليکوالو څخه، چي د پښتنو د مروج اولسي تلفظ پر خلاف، ټولي يا زياتره عربي او پاړسي کليمي په خپله اصلي بڼه کاري، اوله پوښتنه دا ده، چي که عربي او پاړسي ټکي په خپله اصلي بڼه ليکئ، بيا نو سنسکريت، هندي، پنجابي، تورکي او نور ټکي لکه « ادا»، « بوجهـ » ، « جهګړا»، « دکهـ »،« دهندها»، « دهوکا»، « ډهول »،«ګهري »، « اطاق »، « اوجاق »، « طوفان » او داسي نور ولي په خپله اصلي بڼه نه کاږئ؟! مګر په ژبو کي د بېلابېلو کليمو له شکلي او مانوي ( معنوي) بدلون څخه سترګي پټېدلای سي؟ مثلاً د« نمازديګر » ترکيبي ټکی له پاړسي څخه وپښتو ته را ننوتلئ دئ . زمونږ خلګو تي( ته يې) په اصلي بڼه ويل ګران ؤ؛ ځکه يې نو د اسانی او سادګی له اصل سره سم، اول په « مازديګر » او بيا په «مازيګر» يا « ماځيګر» واړاوه . د ايتيمولوژی ماهران او پلټونکي پوهېږي، چي د هندي او سنسکريت ژبو ترکيبي کليمه - آتِنګر ( آتِ = اته + نګر = ښار) په پښتني چاپېر کي واردواره په « هشتنګر» واوښتله . وروسته يې کرار کرار د « هشتنغر» بڼه واخيستله . د زماني په تېرېدو سره يې« ت » د دروندوالي او ګرانی له امله حذف سوه؛ او د« هشنغر» رنګ يې واخيستئ . په « الف » باندي د « هـ » اِبدال په پښتو کي ډېر عام او معمول دئ، ځکه نو «هشنغر» هم په پای کي جوله واړوله؛ او د « اشنغر» په ډول يې رواج پيدا کئ . په دې توګه ګورو، چي د هندي او سنسکريت ژبو همغه « آتِنګر » کليمه اوس تر څو پېړيو شکلي بدلونو وروسته په ټولو پښتنو کي د «اشنغر» په ډول ويل کيږي . دا د کليمو د شکلي بدلون يو دوه مثاله وه، چي په پښتو کي شمېر تر زرو هم اوړي . هغه ليکوال او ژبپوهان، چي په ژبه کي د بېلابېلو ټکو د شکلي بدلون پر اصل باور نه لري، بايد د پښتو ځيني لنډي

سوي مرکبي کليمي لکه «هيچا»، «هيڅوک»، «هيچيري» او داسي نوري هم د«هيڅ چا»، «هيڅ څوک»، «هيڅ چيري» او داسي نورو په بڼه و وايي او وليکي؛ حال دا چي عام و خاص گرده دا کليمي د درندوالي يا ثقلت له جهته د «هيچا»، «هيڅوک» او «هيچيري» په بڼه وايي؛ او موږ ټولو ته په کار ده، چي د داسي ټکو په ليکلو کي دخلګو و مروج تلفظ ته د معيار په سترګه وګورو. «ګرسره»، «اوسرى»، «درنه» او داسي نور ټکي هم ټول په دي ډله کي راځي، چي لرغوني تلفظونه ( ګردسره، اوسترى، درنده) يې اوس د ثقلت او ګرانى له مخي هيچيري نه ويل کيږي . کي څوک په بې خبرى سره وايي هم، نو د ټولنيز پرمختګ له قوانينو او اولسي نرخ و نوا څخه ښکاره سرغړونه کيي .

البته، کليمي له يوې ژبي څخه و بلي ژبي ته په تګ راتګ کي، نه يوازي له شکلي، بلکي کله کله مانوي تغييراتو سره هم مخامخ کيږي؛ مثلاً « مکان » اصلاً عربي کليمه ده، چي په دې ژبه کي زياتره د ځاى، موقعيت، مقام، ارزښت، نتيجي، تسلسل، فاصلي، وزن، فضا، د کتاب د يوې برخي، شرايطو او احوال په مفهوم استعماليږي .[۴] همدغه عربي کليمه په اوردو ژبه کي د کور په مانا پراخ استعمال لري؛ حال دا چي کنداري پښتانه يې د بيت الخلا يا کناراب په مفهوم کاريي . په دې توګه ګورو، چي د همغي يوې کليمي مانا د ژبو په بدلولو سره څونه تفاوت کيي . دي مانوي تطوراتو او بدلونو ته په پام سره، ايا پښتانه يا اوردو ژبي خلګ مجبور دي، چي د عربانو د خوشالى يا عموميت ساتلو دپاره هرومرو دا کليمه په خپله اصلي عربي مانا استعمال کي؟ ايا عربان به پښتنو يا نورو قومو ته پيغور ورکي، چي ولي يې د دوى عربي ټکى د مانا په لحاظ اړولئ دئ؟ که چيري د ژبو د پرمختګ او بدلون له قوانينو بې خبره عربان داسي ناسولټه خبره وهم کي، بيا به نو نور قومونه هم سمدلاسه د عربي ژبي وهغو ټکو ته ګوته ونيسي، چي عربانو له نورو ژبو څخه اخيستي دي؛ او د خپلو ژبنيو اړتيا وو له مخي **يې درانه بدلونونه پکښي راوستي دي لکه : تلفيزيون، بارک، باور، کمبيوتر، فيکتوريا، قانون، صندل، آفت، صابون، نارنج، نرجس، نيروز او داسي نور، چي اصلي بڼه يې ټلوېژن (television)، پارک (park)، پاور (Power)، کمپيوټر (computer)، ويکتوريا (Victoria)، کنن/ کېنن (canon)**، چندڼ، ايت، سابون/ ساپون، نارنګ، نرګس او نوروز دي . په پارسي کي هم «کهچري»، «کهوتي»، «کوتوال»، «کهوسا»، « حِنا » او په سوو نور ټکي د دې ژبي د اړتيا له مخي په «کچرى»، «کوتى/کُتى»، «کوتوال»، «کوسه»، «خِنه» او داسي نورو اوښتي دي . د انګرېزي په ګډون د نرى په نورو ژبوکي هم دکليمو په شکلي او مانوي جوړښت کي د دغه راز بدلونو مثالونه په پېخر دي، چي راټولول يې د يوه کتاب يا لويي رسالي په ګچه کار او پلټنه غواړي . د دې مثالو او خبرو د يادوني اساسي مقصد دا دئ، چي موږ په هيڅ وجه مجبور نه يو د نورو ژبو( عربي، پارسي، هندي، سنسکريت، پنجابي، توركي، انګليسي، فرانسوي، روسي او داسي نورو) دخيلي کليمي د هغو د اصلي او بومي ويوونکو په څېر و وايو او وليکو. موږ به هرومرو له خپلي اړتيا سره سم د هري ژبي ادبي، علمي، تخنيکي او نوري کليمي اخلو؛ خو ټولي به په خپله پښتني کټو کي ايشوو؛ افغاني رنګ او جوله به ورکوو؛ او په ټولو حالاتو کي بې (به يې) د خپلي ژبي د قواعدو او اصولو تابع کوو. دا د ژبي او نورو ټولنيزو پديدو د ژوند او بقا قانون دئ .

پاته لري

لمنليکونه

1 http://afgazad.com/Elmi/092611-HKS-Cheraa-Yak-Yaa.pdf

۲ پوهاند عبدالحی حبیبی، تاریخ خط ونوشته های کهن افغانستان : از عصر قبل التاریخ تا کنون ( کابل : نشر کردۀ انجمن تاریخ و ادب، اکادمی افغانستان، ۱۳۵۰) ۸، ۱۲، ۱۴، ۲۱ .

۳ پوهاند عبدالکشور رشاد، « د خیر البیان لیکدود او لُغتنامه، » خیرالبیان د بایزید روښان، عکسي چاپ . ( کابل : د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی،۱۳۵۳) ۶۱ .

4 Hans Wehr, A Dictionary of Modern Written Arabic. ed. by J. Milton Cowman, 3rd. ed. (Beirut: Librairi du Liban, 1980) 847 .